# یوه کوچنۍ دانه: د ونګري کیسه( ونګري د نجلۍ نوم دی)!


Nicola Rijsdijk

Maya Marshak

Darakhte Danesh


3

پښتو ps

په ختیځه افریقا کې د کینیا د کلي ترڅنګ د غره په لمن کې یوه نجلۍ چې ونګري نومېده له خپلې مور سره په پټي کې کار کوه.

د ونګړي کليوالي ژوند خوښېده. د خپل ميوو په بڼ کې يې ځمکې يېوې کولې او په منځ کې يې ورته کوچنۍ دانې کېښودې.

د هغې د لمر پرېواته ننداره ډېره خوښېده، کله چې د لمروړانګې پنا شوې، د پټې پر نرۍ پوله د کور خواته روانه شوه او ترڅنګ یې د سیند له خوږ غږ نه خوند اخیسته.

ونګړي له ښوونځي سره علاقه درلوده، خو مور او پلار یې مخالفت کوه چې ښوونځي ته لاړه شي. دوی غوښتل چې ونګړي دې یوازې د کور کارونه وکړي. د ونګړي عمر د اوو کلونو و، خو ورور یې ورسره مرسته وکړه. پلار او مور یې دې ته راضي کړه چې ونګړي په ښوونځي کې شامله کړي.

د هغې ډېره مینه له کتاب سره وه، چې ډېر څه ترې زده کړي او ډېره خوشاله وه چې د زده کړو لپاره د امریکا متحده ایالاتو ته بلل شوې ده. ونګري ډېره لیواله وه چې د نورې نړۍ په اړه هم معلومات ترلاسه کړي.

ونګري په امریکا کې ډیر څه زده کړه، او د نباتاتو د کښت ټولې لارې چارې یې زده کړې، دا یې هم په زړه شول چې د ماشومتوب وخت کې یې د کینیا په ځنګل کې څه ډول نباتات کښت کړي وو.

هغې نورې زده کړې هم وکړې، او له خپلو خلکو سره یې ډېره مینه درلوده، او د دوی د آزاد ژوند لپاره یې کوښښ کاوه، چې د افریقا خلک ازاد ژوند ولري او پرمختګ وکړي. ونګري به تل خپل افریقایي کور یادوه، ځکه چې ډېرې خاطرې یې وریورې تړلې وې.

کله چې ونګړي خیلې زده کړې پای ته ورسولې، بېرته کینیا ته راغله، خو د خلکو ژوند کې ډېر بدلون راغلی و، د ځمکې پر سر غټې فارمونه خراب شوي و، میرمنو د خوړو لپاره څه نه لرل، د سون توکي یې خلاص شوي وو او ماشومان هم وږي وو.

ونګري پوهېده چې خلک څنګه له فقر او بې وزلۍ وژغوري، خلکو ته یې له دانو د ثمر لرونکو ونو د کښت او کینولو لارې چارې هم وروښودلې، د کلي خلکو بې ثمره ونې ووهلې او په پیسو یې کور ته د اړتیا وړ توکي واخېستل، له دې او میرمنو سره یې دا مرسته وکړه چې څنګه پر ځان بسیا شي.

د وخت په تیریدو سره ونې رالویې شوې او میوې یې ونیولې، له دې سره ځنګلونه زرغون شول، سیندونه وبهیدل او د ونګري نوم په ټوله افریقا کې مشهور شو. د افریقا اوسني ستر ځنګلونه د ونګري د هڅو پایله ده.

ونګري اړ وه چې د حالت د ښه کيدو لپاره ډيرزيار وباسي، کار وکړي او د خپلو هڅو له امله ډيره مشهوره شوه. د زحمتونو په بدل کې يې خلکو ورته ډالۍ ورکړه، او دا ډالۍ د نوبل په نامه ياديږي. دا د افريقا په تاريخ کې لومړنۍ ميرمن ده چې دا ډالۍ يې ترلاسه کړې ده.

ونګري په ۲۰۱۱کال کې مړه شوه، خو کله چې موږ دا ښکلې ونې او
ځنګلونه ګورو، د هغې فردي هڅې او کوښښ مو ذهن ته راشي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## يوه کوچنۍ دانه: د ونګري کيسه (ونګري د نجلۍ نوم دی)!


Nicola Rijsdijk
Maya Marshak
Darakhte Danesh


CC BY